مسیر
ورځپانه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۳مه | ۶۴۴مه ګڼه

# د بین الافغاني مذاکراتو ځنډنی بهیر؛

## افغان حکومت: د مذاکراتو پاتې پړاوونه دې په کور د ننه مخ ته یوړل شي


۳

د سولې په خبرو کې د ځنډ لاملونه او پایلې
۲ مخ

د ایران راتلونکی مذهبي مشر به څوک وي؟
۲ مخ

د تېرو غمونو اغېز دی چې اوسني ژوند ته په مینه ګورو
۳ مخ

## ایران: ملګري ملتونه دې په افغان سوله کې د بهرنیانو د مداخلې مخنیوی وکړي

ایران وایي، ملګري ملتونه دې نړیوال ځواکونه او بهرنی کړی د افغانستان د سولې په پروسه کې له مداخلې را وګرځوي.
په ملګرو ملتونو کې د ایران دایمي استازي مجید تخت روانچي د ملګرو ملتونو غونډې ته د خبرو پر مهال ویلي، یوازې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې جامع مذاکرات افغانستان ته سوله راوستلی شي. تخت روانچي وایي، د افغانستان د سولې په پروسه کې اوسني پرمختګونه هیله بښونکي دي، خو د دې اړتیا ده چې ملګري ملتونه په خپل ملاتړ او همکارۍ د سولې پروسه چټکه کړي. تخت روانچي همدا راز پر طالبانو غږ کړی چې پر افغان ځواکونو له بریدونو لاس واخلي او د سولې د راتګ لپاره دې تاوتریخوالی کم کړي.
ایران یو ځل بیا په افغانستان کې د سولې له پروسې ملاتړ کړی دی او په دې برخه کې یې د همکاریو ډاډ ورکړی دی.
بلخوا، هند یو ځل بیا ټینګار کړی چې افغان سوله باید په افغانستان کې د تېرو کلونو لاسته راوړنې وساتي. د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي د ازبکستان له ولسمشر شوکت میرضیایف سره په ویډیویي کنفرانس کې پر افغان سوله او د سیمې پر روان وضعیت خبرې کړې دي. نرېندرا مودي ویلي، افغان مذاکرات باید د افغانانو په مشرۍ، مالکیت او د افغان حکومت تر مستقیم نظارت لاندې مخ ته یوړل شي او په دغه هېواد کې د تېرو لاس ته راوړنو د خوندیتوب سبب شي. دوی همدا راز په سیمه کې پر افراطیت او جګړو هم اندېښنې ښودلې او په خبره یې، دوی د افغانستان د سولې د پروسې ملاتړي دي او په دې برخه کې همکاري کوي.

## د سولې بین الافغاني خبرې د راتلونکي کال د جنورۍ تر پنځمې ځنډېدلې


۲ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## طلوع سعادت د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د دې موسسې د محصلینو امر وایي، د محصلینو لپاره د مشورې برخه لري، د خپلو استادانو او یا نورو استادانو پر مټ ورته وخت ناوخت سمینارونه او ورکشاپونه دایرېږي او د محصلینو د وړتیا لوړولو په موخه ژمني پروګرامونه لري.



## کرنې ریاست: په ننګرهار کې د څلور میلیونو ډالرو په لګښت د تازه مېوې مارکېټ جوړ شو




په ننګرهار کې د خصوصي سکتور په همکارۍ د څلور میلیونو ډالرو په لګښت د تازه مېوې او سبزي یو مارکېټ جوړ شو چې د مسوولینو په وینا یې، سلګونه کسانو ته به پکې د کار زمینه برابره شي.
دغه مارکېټ د جلال اباد ښار په لوېدیځه څنډه کې د ننګرهار د لوېدیځو ولسوالیو د کروندګرو لپاره جوړ او پرانیستل شو.
د ننګرهار د کرنې او مالدارۍ رییس انعام الله ساپي وویل چې د تازه مېوې او سبزي د پلور دغه مارکېټ د لعل اغا کاکړ په نوم د یوه کس له لوري د څلور میلیونو ډالرو په لګښت جوړ شوی دی. هغه زیاته کړې، د دغه مارکېټ په رغولو سره به د سره رود، خوږیانو، حصارک او شېرزادو ولسوالیو او د لغمان د قرغیو ولسوالیو کروندګر خپلو حاصلاتو ته لنډ بازار پیدا کړي او دغه راز به سلګونو کسانو ته د کار زمینه هم په کې برابره شي.

## کمیتهٔ مصئونیت خبرنگاران: سازمان ملل در زمینهٔ کاهش خشونت علیه خبرنگاران افغان اقدام جدی کند



کمیتهٔ مصئونیت خبرنگاران افغان، سازمان بین المللی حمایت از رسانه ها ((IMS و سازمان گزارشگران بدون مرز (RSF)، همصدا با جامعهٔ خبرنگاری، شورای امنیت سازمان ملل متحد را به حفاظت از خبرنگاران در افغانستان فرا می‌خوانند. این درحالی است که در چهار روز اخیر، ملالی میوند گرداننده تلویزیون خصوصی انعکاس در ننگرهار؛ و فردین امینی گرداننده تلویزیون خصوصی آریانا در کابل، به قتل رسیدند.
در اعلامیه کمیته مصئونیت خبرنگاران افغان آمده است که کمیته مصئونیت خبرنگاران افغان و گزارشگران بدون مرز، از نامه جامعه خبرنگاری کشور حمایت خود را اعلام می کنند و از شورای امنیت سازمان ملل میخواهند تا در زمینه کاهش خشونت علیه خبرنگاران اقدامات جدی انجام دهند.
منبع نوشته است که به تاریخ ۱۸ نوامبر ۲۰۲۰، جامعه خبرنگاری افغانستان، در نامه ای به شورای امنیت سازمان ملل متحد، نگرانی‌های خبرنگاران و رسانه ها در پیوند به افزایش خشونت و تهدید در برابر خبرنگاران را عنوان نموده از آن نهاد خواسته شد تا برای کاهش خشونت‌ها و تحت فشار قراردادن آمران و عاملان خشونت‌ها، اقداماتی را روی دست گیرند. این نامه به دفتر یوناما در افغانستان داده شد. به نقل از اعلامیه، این سه سازمان مدافع حقوق خبرنگاران و آزادی رسانه‌ها، همچنان تاکید کرده اند: «مذاکره برای صلح بدون پذیرش تعهدات بین‌المللی بنیادین و رعایت حقوق بین‌الملل بشردوستانه و بیش از هر چیز کنوانسیون‌های ژنیو، که رسانه‌ها و خبرنگاران را اماکن و افراد « ملکی» قلمداد نموده و از حمله نظامی حفاظت می کند، امر نامعقول و نامطلوب میباشد».

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

### د سولې په خبرو کې د ځنډ لاملونه او پایلې

پرون داسې خبرونه وو چې د بین الافغاني خبرو په بهیر کې تر شلو ورځو پورې ځنډ راځي او بیا به له دې ځنډ وروسته بېرته خبرې پیلېږي. د خبر سرچینو د دې ځنډ لامل په امریکا کې د کرېسمس رخصتۍ گڼلي، خو ښایي د دې تر څنگ په خبرو کې په ټپه ولاړ حالات، اختلافونه، په امریکا کې د واک لېږد او ځینې نور مسایل د دې ځنډ سبب شوي وي.

خو ایا دا ځنډ سم دی؟

د سولې په خبرو کې ځنډ، که یوه ورځ او یو ساعت هم وي، د منلو نه دی؛ ځکه چې جگړه روانه ده او په همدې یوه ساعت او یوه ورځ کې هم افغانان وژل کېږي او که یو ساعت او یوه ورځ مخکې هم توافقات کېږي، نو د لسگونو افغانانو د مرگژوبلې مخه به نیول شوې وي. پر دې بنسټ په خبرو کې ځنډ او وقفه د لا ډېرو افغانانو د وژنې زمینه برابروي. له همدې کبله دواړه ټیمونه او هر څوک چې د افغانانو ریښتینی استازیتوب کوي، باید دا ځنډ ونه غواړي او نه هم دا چاره د سولې او افغانانو په گټه وگڼي.

د دغه ځنډ لپاره چې ظاهراً اوس کوم څه یادېږي، قانع کوونکي نه دي، خو که وروسته د ځنډ رسمي اعلان کېږي او بیا نور دلایل یادېږي، هغه جلا خبره ده. د امریکا له کرېسمس رخصتیو او هلته نوي حکومت ته د واک له لېږد سره د بین الافغاني خبرو تړل، نه یوازې دا چې د بین الافغاني خبرو تصویر ته زیان اړوي، بلکې ښکاره کوي چې دا یوه امریکایي پروسه ده چې افغاني نوم ورکړل شوی دی. له بله اړخه د دواړو اړخونو د پلاوو سترړیا یا هم بل څه دغه ځنډ نه شي توجیه کولی. دواړه ټیمونه په دوحه کې نرم او گرم پراته دي، په ښکلو او له سهولتونو په ډکو ځایونو کې اوسېږي، د دوی خبرې ډېرې کمې دي او هېڅ داسې څه یې نه دي کړي، چې دوی دې پرې ستړي شي. له همدې کبله تر اوسه پورې د خبرو د ځنډ لپاره هېڅ داسې کوم قانع کوونکی دلیل نشته.

که ځنډ راځي، باید سم او قانع کوونکي دلایل وي. په سوله کې له یوه مهم پرمختگ وروسته او یوه نوي پړاو ته د داخلېدو لپاره ښایي د یوه ځنډ اړتیا وي. که پر اجنډا توافق وشي او له هغه وروسته دواړه لوري د اجنډا پر موضوعاتو د خپلو مشرانو سره د مشورو لپاره او یا هم د خپلو طرحو د وړاندې کولو لپاره یو لنډ ځنډ ته اړتیا ولري، ښایي ځنډ توجیه شي. یا هم دا چې دواړه اړخونه د سولې په خبرو کې له پرمختگ سره هممهاله د خبرو دا لا ښه دوام لپاره د خبرو ځای بدلوي او د دغه بدلون لپاره ځینې تخنیکي کارونه وخت ته اړتیا ولري، بیا هم ښایي دا ځنډ توجیه شي. یا ښایي بل کوم داسې دلیل وي چې هغه د دغه ځنډ لپاره معقول دلیل شي.

دواړه اړخونه باید درک کړي چې د دوی په کار کې ځنډ او خنډ د دې سبب کېږي چې د لا زیاتو افغانانو وینې تویې شي، له همدې امله دوی مخامخ د خپلو خلکو او خدای تعالی پر وړاندې مسوول دي. دوی باید رواني جگړې، وژنو او د سولې اړتیا ته وگوري او بیا د ځنډ په اړه پرېکړه وکړي او هېڅکله باید هېره نه کړي چې هر خنډ او ځنډ د افغانانو د وژنې فرصتونه زیاتوي.

# د ایران راتلونکی مذهبي مشر به څوک وي؟

بي‌بي‌سي پښتو

د ایران د مذهبي مشر ایت الله علي خامنه‌ای د روغتیا په اړه وروستیو اوازو دا پوښتنه رامنځ ته کړې ده، چې که چېرته نوموړی ډېر ناروغ شي او یا ومري؛ نو څوک **به د دغه هېواد مذهبي مشر ټاکل کېږي؟**

۸۱ کلن خامنه‌ای په منځنی ختیځ کې د یوه ځواکمن هېواد تر ټولو لوړ رتبه سیاسي څېره ده؛ ځکه نو د هغه ځایناستی نه یوازې د ایران؛ بلکې سیمې او نړۍ لپاره هم مهم دی.

**مذهبي مشر څنگه غوره کېږي؟**

د ایران مذهبي مشر د ۸۸ ملایانو مجموعې لخوا چې د کارپوهانو د غونډې په نامه هم مشهوره ده، غوره کېږي. د ملایانو د مجموعې غړي په اتو کالو کې یو ځل د خلکو لخوا غوره کېږي، خو تر دې مخکې باید کاندید کس د ملایانو د ساتونکې شورا په نامه کمیټې لخوا تایید شي. د ساتونکې شورا غړي هم په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د مذهبي مشر لخوا غوره کېږي.

مذهبي مشر پر دواړو بنسټونو هم د ساتونکو پر شورا او هم د ملایانو پر مجموعې نفوذ لري. خو علي خامنه‌ای وار دمخه دا باوري کړې ده چې د ملایانو مجموعه کې به محافظه کاران د هغه لارښوونې عملي کړي.

د ملایانو د مجموعې غړي په اتو کالو کې یو ځل د خلکو لخوا غوره کېږي. کله چې د ایران مذهبي مشر غوره شي، بیا نو کولای شي چې د ژوند تر پایه پورې پر دې څوکۍ پاتې شي.

د ایران د اساسي قانون له مخې، مذهبي مشر باید ایت الله وي، یانې د شیعه مذهب یو لوړ رتبه څېره؛ خو کله چې علي خامنه‌ای د مذهبي مشر په توگه غوره کېده، نو هغه ایت الله نه و او د دې لپاره چې نوموړی دغه دنده قبوله کړي په قوانینو کې بدلون رامنځ ته کړای شو.

په همدې خاطر د دې امکان شته چې بیا هم قانون کې بدلون راوستل شي، خو دا هرڅه د سیاسي وضعیت او هغه وخت سره تړلي دي چې کله نوی مذهبي مشر په کې غوره کېږي.

**ولې مذهبي مشر مهم دی؟**

په ایران کې مذهبي مشر تر ټولو ځواکمن وي. د مهمو مسایلو په اړه وروستۍ پرېکړه مذهبي مشر کوي.

له بهرنۍ نړۍ سره د چال چلند تگلارې هم مذهبي مشر جوړوي.

ایران په نړۍ کې تر ټولو ځواکمن شیعه هېواد دی او د علي خامنه‌ای په مشرۍ ایران توانیدلی دی، چې په منځني ختیځ کې خپل نفوذ ډېر کړي.

د ایران مذهبي مشر په هېواد کې تر ټولو ځواکمن کس وي او د هرڅه په اړه وروستۍ پرېکړه دی کوي. د هغه مړینه به نه یوازې د سیمې تاریخ بدل کړي؛ بلکې نړۍ ته به هم ټکان ورکړي.

د ده په مشرۍ د ایران، امریکا او سراییلو تر منځ دښمني د پام تر کچې ډېره شوه چې له امله یې په سیمه کې له کلونو راهیسې کړکېچ او بې ثباتي اوج ته رسېدلې دي.

شته اصول په دې مانا دي چې که هرڅوک د ایت الله علي خامنه‌ای ځایناستی کېږي، د هغه تگلارې ته به دوام ورکوي.

**بل مذهبي مشر څوک کېدای شي؟**

د ایران سیاسي ډلې د بل مذهبي مشر په ټاکنه کې ژوره لېوالتیا لري، خو داسې یوازینی یو کس نشته چې د یوه پاچا ټاکوونکې په څېر عمل وکړي او په دې توگه د بحران د رامنځ ته کېدو مخه ونیسي.

هغسې چې علي خامنه‌ای له ده نه مخکې مذهبي مشر ته وفاداره پاتې شوی، علي خامنه‌ای هم په شخصي کړیو کې د خپلو وفاداره پیروانو تر منځ نفوذ لري چې ډېری یې د ایران د انقلابي گارد غړي دي.

د دې امکان شته چې انقلابي گارد د هغه کس مخه ونیسي چې فکر کوي د راتلونکي مذهبي مشر څوکۍ ته مناسب نه دی.

که څه هم دې څوکۍ ته د احتمالي کاندیدانو د یوه لېست په اړه اوازې شته، خو هېڅوک نه پوهېږي چې په دغه لېست کې د چا نوم راغلی دی.

په اوازو کې ویل شوي چې د ایت الله علي خامنه‌ای څوکۍ ته په خپله د خامنه‌ای د خوښې کس یې زوی مجتبی خامنه‌ای او یا هم د عدلیې مشر ابراهیم ریسي دی، که دا خبره رښتیا وي، نو بیا یو څه وزن لرلی شي.


دغه راز گومان کېږي چې د عدلیې پخوانی مشر صدیق لاریجاني او اوسنی ولسمشر حسن روحاني هم لوی مذهبي مشر کېدو ته لېوالتیا لري.

## عامې روغتیا وزارت: د راتلونکي کال تر نیمایي به افغانستان ته د کرونا ضد ویروس را ورسېږي

عامې روغتیا وزارت وایي چې د واکسین له نړیوالې ټولنې، د اسیا پراختیایي بانک او مدرنا شرکت سره یې دغه هېواد ته د کرونا ویروس د واکسین د رالېږلو په تړاو خبرې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د هوا سړېدو، د کرونا ویروس دویمې څپې او په ورځني ډول د دغې وبا له امله د تلفاتو زیاتېدو خلک اندېښمن کړي دي.

خو له دې سره سره د راتلونکې په اړه خوشبینې او له دغې وبا څخه د خلاصون هیلې هم ورځ بلې ته ډېرېږي. کرونا ویروس ته د واکسین جوړولو لپاره د یو شمېر شرکتونو تر اعلان او گټور ثابتېدو وروسته اوس یو شمېر زیاتو هېوادونو د دې واکسین غوښتنه کړې ده.




د افغانستان د عامې روغتیا وزارت وایي، چې د ۲۰۲۱ ز کال په نیمایي کې به دا واکسین تر لاسه کړي. دا واکسین د مدرنا امریکایي شرکت له خوا جوړ شوی چې ۹۵ سلنه گټور ثابت شوی دی.

یاد وزارت وایي، د ۲۰۲۲ ز کال تر نیمایي پورې به د هېواد ۴۰ سلنه وگړو ته دا واکسین ورسېږي، چې په ۴۰ سلنو کې ۲۰ سلنه یې د واکسین نړیوالې ټولنې لخوا او ۲۰ سلنه نور یې د نړیوال او پراختیایي بانکونو لخوا ژمنه شوې ده.

هغه واکسین چې افغانستان ته راوړل کېږي، مدرنا په نوم یو امریکایي شرکت جوړ کړی چې په شپږو پړاوونو کې به تر ۲۰۲۲ز کال پورې افغانستان انتقال شي.

ویل کېږي چې د دغه واکسین لومړۍ برخه چې دری سلنه ده چې ښایي د ۲۰۲۱ ز کال تر نیمایي پورې افغانستان ته ورسېږي. د عامې روغتیا وزارت د ویاند مرستیالې معصومه جعفري ویلي: «هغه کمېټه چې د کرونا ویروس د انتقال لپاره ځانگړې شوې وه، په لومړي گام کې هېواد ته د ۳ فیصده واکسین پر انتقال سره سلا شوې دي، په دې ۳ فیصدو کې روغتیایي کارکوونکي، هغه کسان چې له کرونا سره په مبارزه اخته دي او هغه وگړي چې د دې ویروس له امله مرگ سره لاس او گرېوان دي، ورکول کېږي.»

د کرونا ویروس د واکسین په اړه په داسې حال کې خبرې کېږي، چې په افغانستان کې په دغه ویروس د اخته کېدونکو ناروغانو شمېر ورځ بلې ته زیاتېږي.

## نړیوال بانک: له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې ۸۵ میلیونه ډالره مرسته کوو

نړیوال بانک وایي، له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې ۸۵ میلیونه ډالره وړیا مالي مرسته کوي. یاد بانک په دې اړه په خپل راپور کې ویلي چې د نړیوال بانک مدیره پلاوي یاده مرسته تصویب کړې ده.

په راپور کې راغلي، چې دا مرسته د نړیوال بانک او د افغانستان د بیارغونې صندوق د ۳۹۳ میلیون ډالري بستې یوه برخه رانغاړي چې د کووېډ-۱۹ د منفي اغېزو د کموالي او پاکو اوبو ته د لاسرسي، حفظ الصحې او عامه خدمتونو د پیاوړتیا په موخه به مصرف شي.

نړیوال بانک ویلي چې له یادې مالي مرستې څخه ۵۰ میلیونه به یې د ښکاک پاکو اوبو، حفظ الصحې او په دغه هېواد کې د جوړښتي مرستو د چمتو کولو پروژې او ۳۵ میلیونه ډالر به د افغانستان د ولسي تړون په پروگرام کې ولگول شي.




د یاد بانک د معلوماتو په اساس، د افغانستان د پاکو اوبو، حفظ الصحې او بنسټیز ملاتړ پروژې به په کابل، کندهار او هرات ولایتونو کې د کرونا ویروس د خپراوي په ترڅ کې د اوبو رسونې د پروژو په پیاوړتیا کې د افغانستان له دولت سره مرسته وکړي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک مشر هینري کرالي د یادې مالي مرستې په اړه ویلي: «پاکو اوبو، حفظ الصحې او بنسټیزو خدمتونو ته لاسرسی د کرونا پر وړاندې د مبارزې په برخه کې له بنسټیزو اړتیاوو څخه شمېرل کېږي. تمه کېږي چې په افغانستان کې د پاکو اوبو، حفظ الصحې او بنسټیز ملاتړ پروژې لخوا به دا نوې مالي مرسته افغانانو ته د بنسټیزو روغتیایي مرستو او، اوبو ته د لاسرسي په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي. پر دې سربېره، د افغانستان د ولسي تړون پروژې لپاره به دغه اضافي مالي مرسته بنسټیزو خدمتونو ته د افغانانو د لاسرسي په برخه کې د یاد پروگرام د وروستیو کلونو د پام وړ لاسته راوړنې ځواکمنې کړي.»

نړیوال بانک ویلي چې د کرونا ویروس خپرېدل او جگړې په افغانستان کې د جدي اقتصادي او ټولنیزو ستونزو د رامنځته کېدو لامل شوي دي. نړیوال بانک تر دې مخکې هم له افغانستان سره مالي مرستې کړې دي، دا مرستې په داسې حال کېږي چې د افغانستان حکومت له بېوزلۍ سره د مبارزې په هدف د ملي دسترخوان پروگرام پیل کړی دی.



# د تېرو غمونو اغېز دی چې اوسني ژوند ته په مینه ګورو

لیکوال: شي مونګ/ ژباړنه : سپوږمۍ

د هر کال د ډسمبر په ۱۳مه په چین کې د نانجینګ ښار د ټولوژنې په مناسبت د ملي ماتم ورځ وي. د چین حکومت په دې ورځ د درنو مراسمو په تر سره کولو سره د نانجینګ ښار په ټولوژنه کې د څه باندې دریو لکو بې ګناه قربانیانو په اړه خپګان او ویر څرګندوي. افغان ملګري ښايي په دې اړه فکر ونه شي کړی. کابو ۷۰ کاله وړاندې چین یو وروسته پاتې، بې وزله او کمزوری هېواد و. جاپاني تېري کوونکو او یرغلګرو د دویمې نړیوالې جګړې په موده کې چینایانو ته بې حسابه ځاني او مالي زیانونه ورسول او یوازې یې د چین د هغه وخت پلازمېنې نانجینګ ښار کې څه د پاسه درې لکه بې ګناه وګړي ډېر په بې رحمۍ ووژل، ستر بشري ضد جنایت یې تر سره کړ، داسې جنایت چې مثال به یې ډېر کم وي. د چینایانو په ذهن کې دا له دردونو او غمونو څخه ډکه او نه هېرېدونکې تاریخي واقعه ده. دا چې چینایان هر کال د ملي ماتم په دې ورځ د خپلو عزیزانو او وطنوالو په یاد ناستې، غونډې او ځینې نور فعالیتونه تر سره کوي، دا د دښمنۍ د تازه کولو او خپرولو په موخه نه کوي؛ بلکې ټولې نړۍ ته د دې ښودنه کوي چې چینایان په تېرو وختونو کې د غمونو او سختیو په ګاللو او زغمولو سره تر هر چا زیات د سولې، ارامۍ، سوکالۍ او پرمختګ پر اهمیت ښه او زیات پوهېږي او اوسني نېکمرغه ژوند ته لا په درنښت ګوري او په مینه یې ساتنه او پالنه کوي. چین به د نړیوالې سولې لا ټینګ ساتونکی او ملاتړ کوونکی اوسي.

د ۱۹۳۷ کال په پای کې جاپاني یرغلګر پوځ د چین د هغه وخت پلازمېنه نانجینګ ښار ونیو او بیا یې کابو د ۴۰ ورځو په ترڅ کې پر وګړو بې ساري ظلمونه او د ټولوژنې نه بښونکي جنایتونه تر سره کړل. د دویمې نړیوالې جګړې تر پای ته رسېدو وروسته، د لرې ختیځې نړیوالې پوځي محکمې او د نانجینګ پوځي محکمې د اړوندو محاکمو د پلټنو، شواهدو او معلوماتو له مخې، د یادې ټولوژنې په اړه معلومه کړه چې جاپاني تېري کوونکو د چین څه د پاسه درې لکه ولسي وګړي او جنګي اسیران قصداً وژلي، پر کابو شل زرو چینې ښځو یې جنسي تېري کړي او د دغه ښار یو پر درېیمه برخه ودانۍ یې ویجاړې او سوزلې دي. دغه پېښه د چینایانو په زړونو کې نه هېرېدونکې ده او د هېچا لخوا د بښنې وړ نه ده.

د چین ولسي جمهوریت تر جوړېدو وروسته د دغه هېواد حکومت او خلک هر کال په بېلابېلو لارو چارو سره د یادې ټولوژنې د قربانیانو په اړه ویر او خپګان څرګندوي. د ۲۰۱۴ کال د فبرورۍ په ۲۷مه د چین د ملي ولسي کانګرېس دايمي کمېټې په ۷مه غونډه کې پرېکړه وکړه، چې د هر کال ډسمبر ۱۳مه دې په نانجینګ کې د ټولوژنې د ملي ماتم د ورځې په توګه وټاکل شي. د دې پرېکړې په تصویب سره د یادو قربانیانو په اړه د ویر او خپګان څرګندولو فعالیت په دولتي کچه تر سره کېږي او له تېري کوونکو سره د مبارزې، غندنې او د انسانانو د وقار، عزت، شرافت د ساتلو او د نړیوالې سولې د خوندیتوب په اړه د چینایانو د ټینګ دریځ او هوډ څرګندونه کېږي.

موږ تېرو وختونو ته په کتنې سره تاریخي تجربې راغونډوو. چینایان په تېرو وختونو کې د غمونو او دردونو په احساسولو سره د سولې او پرمختګ پر اهمیت او ارزښت لا ښه پوهېږي. ۲۰۲۰ کال چې نړیوالو ته دومره ارام کال نه دی، د کرونا وبا خپرېدل، یو اړخیزم، تبعیض او د ځینو هغو د باداری غوښتنې رویې په ګډون، ډېرې ستونزې جوړې او رامنځ ته شوې دي. لکه څنګه چې د چین د دولتي شورا غړي او د بهرنیو چارو وزیر ((وانګ یي)) د تېرې میاشتې په یوه وینا کې ویلي، انسانان له خپلې ځیرکتیا، ضمیر، جرئت او زړورتیا څخه په ګټې اخیستنې سره همېشه دا انتخابوي چې د ګډو ننګونو پر وړاندې سره یو موټی شي، ایا بندیزونه او جلا کېدنه بهتره ده که ورخلاصون او پرانېستنه؟ ایا دروازې بندول به بهتره وي که له یو بل سره همکاري کول؟ له تاریخي واقعیتونو تل دا بیا بیا ثابته شوې ده چې د انسانانو برخلیک ګډ او یو د بل پر مټ ولاړ دی او پر مخ ځي، څو اړخیزم د انسانانو ګډه غوښتنه او مناسبه لاره ده او دا نړیواله اداره او اړیکې پیاوړې کوي.

۲۰۲۱ کال به د چین کمونېست ګوند د جوړېدو له سلمې کلیزې سره برابر وي او د چین د ۱۴م پنځه کلن پلان شروع او لومړی کال به وي. چین به په راتلونکي کال کې د عصري سوسیالیستي هېواد د هر اړخیزې ابادۍ د نوي بهیر دوره پرانیزي او دویمې سل کلنۍ موخې ته به لا ځان نږدې کړي. دغه هېواد به د نړیوال عدالت تر څنګ تل ټینګ ولاړ اوسي، پر څو اړخیزم به ټینګار کوي، د دوستۍ، صمیمیت، متقابلو ګټو او ټولشمولیت په رڼا کې به خپلو ډیپلوماتیکو تګلارو ته دوام ورکوي، د افغانانو تر لارښوونې او حاکمیت لاندې د افغان سولې له بهیر څخه ملاتړ به قوي او دوامداره ساتي، د انسانانو د ګډ برخلیک ټولنې ابادۍ ته به لا اوږه ورکوي او پر مخ به یې بیايي او د افغانانو په شمول له ټولو نړیوالو سره به د نړیوالې سولې او پرمختګ لپاره نه ستومانه کېدونکې هلې ځلې او هڅې کوي.

# د بین الافغاني مذاکراتو څنډنی بهیر؛

## افغان حکومت: د مذاکراتو پاتې پړاوونه دې په کور د ننه مخ ته یوړل شي



افغان حکومت په تازه څرګندونو کې ویلي چې پاتې بین الافغاني مذاکرات دې د دوحې پر ځای په کابل کې ترسره شي. د افغان ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب په تازه څرګندونو کې ویلي چې د مذاکراتو دواړه اړخونه دلته د خلکو وضعیت له نږدې لیدلی شي او پر دې پروسه به د ولس باور لا ډېر شي، نو ځکه باید بین الافغاني مذاکرات په افغانستان کې ادامه پیدا کړي. طالبانو په دې اړه غبرګون نه دی ښودلی، خو د سولې د مسایلو څارونکي بیا وایي چې حکومت یوازې د خنډ جوړولو په لټه کې دی.

په رسنیو کې داسې راپورونه خپاره شوي چې په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو دواړه لوري به خپلې رخصتۍ پیلوي، په داسې حال کې چې ولس د یوه اوربند او جګړو د کمېدو په تمه دی. د طالبانو د قطر دفتر ویاند ډاکټر نعیم په تازه څرګندونو کې ویلي چې بین الافغاني مذاکرات د راتلونکي کال د جنورۍ تر پنځمې نېټې ځنډېدلي دي. له دې سره جوخت افغان حکومت د دې غوښتونکی دی چې د بین الافغاني مذاکراتو پاتې برخې په افغانستان کې پر مخ یوړل شي.

د افغان ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب تېره ورځ په خپلو څرګندونو کې ویلي، ښه به وي چې د مذاکراتو پاتې پړاوونه په افغانستان کې مخ ته یوړل شي. د ده په وینا، افغان حکومت د دې وړتیا لري چې وکړی شي د بین الافغاني مذاکراتو لپاره امکانات برابر کړي، ان تاسیسات جوړ کړي او په دې توګه د ډېرو لګښتونو مخه ونیسي.

محب دا هم ویلي چې افغان حکومت د ځای په اړه هېڅ راز ملاحظه نه لري، خو د مذاکراتو په برخه کې د اسانتیا په موخه په کور د ننه د مذاکراتو ملاتړ کوي. د ده په خبره: ((د سولې خبرو پاتې پړاوونه باید د هېواد دننه تعقیب شي. دولت د ځای په اړه ځانګړې ملاحظه نه لري او چمتو دی د هېواد هره سیمه چې طالبان پیشنهادوي، هلته د تاسیساتو جوړولو په شمول، بشپړه اماده ګي ونیسي او خبرې پر مخ یوسي)).

نوموړی همدا راز په کور د ننه د مذاکراتو په ترسره کېدو د ولسي نظارت د ډېرېدو خبره کوي. حمدالله محب وايي، که مذاکرات په کور د ننه ترسره کېږي، نو ولس به هر څه په خپله ویني او په دې توګه به یوه ځانګړې امنیتي ساحه رامنځ ته شي چې مذاکرات به لا د ډاډ وړ شي. نوموړی په کور د ننه د مذاکراتو د مخ ته بېولو بل هدف دا یادوي چې وکړی شي په مذاکراتو کې د بهرنیو شرایطو د راتګ پر ځای دغه بهیر په کور د ننه له روان وضعیت متاثر شي. د ده په وینا: ((د افغانانو تر منځ خبرو کې اړینه ده چې را روان پړاوونه یې په افغانستان کې وي، څو سوله د بهرنیو شرایطو پر ځای د افغاني ټولنې له واقعیتونو متاثره، سرتاسري او دایمي وي)).

که څه هم وسله والو طالبانو تر اوسه په دې اړه غبرګون نه دی ښودلی، خو تر دې وړاندې یې ویلي چې په دوحه کې به مذاکرات مخ ته وړي او داسې څرګندونې هم شوې وې چې ګواکې د مذاکراتو بېل پړاوونه به په بېلو هېوادونو کې مخ ته وړل کېږي. بلخوا د سیاسي چارو او سولې د مسایلو شنونکي بیا پر دې باور دي چې افغان حکومت په یو ډول نه په یو ډول د سولې په مسایلو کې خنډ جوړوي. د سیاسي مسایلو شنونکی طارق فرهادي وايي، د ملي امنیت شورا د سلاکار څرګندونې د دوحې د مذاکراتو پر وړاندې د خنډ جوړولو په مانا دي. د ده په خبره: ((د ملي امنیت د سلاکار څرګندونې د دوحې د مذاکراتو په لار کې د ډبرې اچولو په مانا دي. خو دا چاره هله ممکنه ده چې ولسمشر غني له خپلې دندې استعفا ورکړي، انتقالي حکومت جوړ شي او په هغه کې طالبان هم ونډه ولري)).

سیاسي شنونکي دا هم وايي چې د ولسمشر غني نږدې کسان د سولې په برخه کې ځینې ستونزې ان په دوحه کې جوړوي، خو که مذاکرات په کور د ننه کېږي، نو ښايي بیا حکومت ان د امریکا فشارونه هم ونه مني. د سیاسي چارو شنونکی شرف الدین ستانکزی وايي، اوس دواړه لوري دې ته په تمه دي چې د امریکا نوی حکومت د دوی په اړه څه دریځ لري. د ده په خبره: ((اوس دواړه د امریکا نوي حکومت ته په تمه دي، ځکه خو خنډونه او ځنډونه رامنځ ته کېږي)).

طالبان دمګړی په دوحه کې له خپل دفتر د مهمې سیاسي برخې په توګه کار اخلي چې نه یوازې له افغان حکومت سره یې مذاکرات له دې لارې پیل کړي، بلکې د نړۍ له ګڼو هېوادونو سره یې سیاسي مذاکرات او اړیکې له دې لارې تامینېږي.



# د اروپايي ټولنې بندیزونو ته غبرګون؛

## اردوغان: د اقتصادي او نورو بندیزونو لګول ټول اړخونه زیانمنولی شي

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د امریکا او اروپا د وروستیو بندیزونو په اړه توند غبرګون ښودلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې ترکیه لومړی د امریکا له بندیزونو سره مخ وه، خو اوس تازه اروپايي ټولنې هم پرې بندیزونه لګولي دي.

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان پر دغه هېواد د اروپايي ټولنې د اقتصادي بندیزونو تر اعلان وروسته په یوه ټلویزیوني وینا کې ویلي، چې د بندیزونو لګول ټول اړخونه زیانمنوي. هغه ټینګار کړی، چې هېڅ داسې مسله نشته چې په خبرو حل نه شي.

د اردوغان په خبره: «موږ له امریکا او اروپايي ټولنې سره ژورې سیاسي او اقتصادي اړیکې لرو، هېڅوک یې کم لاس نه شي نیولی او نه یې هم د له منځه تلو خطر منلی شي، هېڅ داسې مسله نشته چې د خبرو له لارې حل نه شي.»

دا په داسې حال کې ده چې اروپايي ټولنې ورمه ورځ پر ترکیې د اقتصادي بندیزونو زیاتولو ته شین څراغ وښود؛ ځکه دا هېواد د مدیترانې په اوبو کې چې یونان او قبرس یې خپلې بولي، د ګازو د زېرمو لټون ته دوام ورکړی دی.

د یادونې ده چې تر اوسه پورې د یادو بندیزونو څرنګوالی او ښه نه ده اعلان شوې او ښايي وخت ونیسي. د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه یونان او قبرس له ترکیې سره ښې اړیکې نه لري. د یونان لومړي وزیر د اروپايي ټولنې له وروستۍ پرېکړې هرکلی کړی او هغه یې د ترکیې پاروونکو اقدامونو ته یو ګډ ځواب بللی دی. بلخوا ترکیه له روسیې څخه د دفاعي سیستمونو د پېرلو په خاطر د امریکا متحده ایالتونو د بندیزونو له ګواښ سره هم مخ ده.


انقرې تر اوسه د واشنګټن ګواښونو ته پاملرنه نه ده کړې او ویلي یې دي، چې له روسیې د دفاعي سیستم، الوتکو او درنو پوځي وسلو پېرلو ته دوام ورکوي. ورمه ورځ د اروپايي هېوادونو مشرانو ووېل چې ترکیې د اروپايي ټولنې پر وړاندې څو پاروونکي او یو اړخیزونه کارونه ترسره کړي دي. اروپايي مشرانو همدا راز په یاده ټولنه کې د ترکیې د غړیتوب په اړه د خبرو د درېدو غوښتنه هم وکړه. د اروپايي ټولنې په ناسته کې د دې ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مسوول جوزېف بوریل ته دنده ورکړل شوه، څو له ترکیې سره د اروپايي هېوادونو د سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو اړیکو بشپړ راپور چمتو کړي. بوریل ته دا دنده هم سپارل شوې، چې د بندیزونو د زیاتولو په ګډون د راتلونکو ګامونو ټولې سپارښتنې په خپل راپور کې ځای کړي.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دریمه برخه
**کشمیر**




دوراني: یقیناً. هغوی سره ډېر پاشل شوي او ښایي ځینې یې له دې هم خبر نه وي چې په کشمیر کې څه تېرېږي. په هر حال، موږ د یوه داسې ستر چاپېریال غوښتونکي یو په کوم کې چې دواړه هېوادونه وکولای شي وړاندې تگ ته زمینه برابره کړي. هر کله چې ولیدل شول چې مسایل په سمه توگه پر مخ نه ځي، نو د روان وضعیت په مانا دی. که څه هم دا اصطلاح مې باید نه وای کارولې.
دولت: کشمیر په لیکنو او رسنیو کې دی، خو تاسو د برهان واني یادونه وکړه.
دوراني: هو کله چې د پاځون دا پړاو پیل شو، د کشمیر په موضوع کې مې له ښکېلو کسانو څخه وپوښتل چې ایا وضعیت به څه بدلون وکړي؟ هو، وضعیت متفاوت ښکاري، خلک غوسه دي. خلکو د جگړې پر ځای د شهادت د نصېب غوښتنه کوله. که وضعیت چېرته غیر عادي لور ته لاړ شي، نو هند به هم د غبرگون په توگه متفاوته لار غوره کړي. پرته له دې چې هند څه کوي، دوام به یې د دې سبب شي چې په بېلابېلو وختونو کې ترې گټه واخیستل شي، په دې حال کې هره پېښه شونې ده، کېدای شي د کشمیریانو د ځپلو لامل شي او یا د هغوی د خوشالولو لپاره کومه معامله وشي. همداسې وشول او دوام به کوي. که تر راتلونکو شلو کلونو پورې همداسې دوام وکړي، عمر عبدالله به اعلی وزیر وي، خو ستونزې به لا پسې خونړۍ شي. د کشمیر له پاځون څخه یوازې ۲۸ یا زیات کلونه تېرېږي، خو هلته داسې مسایل شته چې ۵۰، ٦۰ او ۷۰ کاله دوام کولای شي. موږ تل یو مثال وړاندې کړی، که څه هم شرایط د بلوچستان په څېر پېچلي نه دي. په بلوچستان کې په تېرو ۷۰ کلونو کې پنځه پاځونونه شوي. له پنځو تر لسو زرو قهرېدلي ځوانان پکې شامل وو، خو د سیمې د پراخوالي او ستروالي له امله خلک تیت و پرک وو. یو موټی او متحد نه ښکارېدل. موږ په هر وار ښه مدیریت کړ او له ۳۴ ناحیو څخه مو پنځو یا شپږو ته رامحدود کړ. د زیاتره بلوچانو لپاره پاکستان د یو ډېر بد انتخاب په توگه پاتې شو. سره له دې چې هغوی بریالي نه شول او موږ د پاځون مخه ډپ کړه، خو ستونزه لا هم پر ځای ده او دوام به کوي. دا یوازې د ۵۰۰۰ کسانو ستونزه نه ده. نورو کسانو چې دا لار نه ده غوره کړې او لا هم په پاکستان کې پر سوله ییزو اعتراضونو باور لري، د هغوی شمېر هم کم نه دی. ستونزه د ناکامو سیاسي او اقتصادي جوړښتونو له امله ده، چې وضعیت یې پېچلی کړی او همداسې به دوام کوي. دا ښیي چې یوه ستونزه د گڼو ځیرکانه اقداماتو په پایله کې د لنډ او اوږد مهال لپاره حل شوه. عین مسایل به په کشمیر کې هم پېښ شي.
سېنها: ایا په راتلونکو شلو کلونو کې به هلته نور ډېر وانیان پیدا شي؟
دوراني: فرض کړه چې هلته تر کنټرول، سخت گیریو، سیاسي مدیریت او «کشمیر زموږ دی» شعار پسې له نښتلو پرته بل څه نه شته. کشمیر څو وارې د بلا خولې ته لوېدلی، له دې کبله نه چې موږ کوم کار کړی. نن ښایي د یو او سبا ښایي د بل دلیل له کبله د بلا خولې ته ولوېږي. ځکه چې کشمیر پېچلې موضوع ده او تر هغې زیات کار ته اړتیا لري لکه د کشمیر کارپوهان چې یې د ساده مدیریت په ښه وړاندې کوي.
دولت: کارپوهان نه شته ښاغلیه. په راتلونکو شلو یا پنځوسو کلونو کې به د کشمیر کړښه هېڅ چېرته لاړه نه شي، کشمیر چې چېرته دی هملته یې پرېږدئ. خو که موږ د کشمیر په اړه د خپل فکر ښه بدله نه کړو، نو تر دې به لا زیات برهان وانیان ولرو. ځکه چې که سپینه یې ووایو، موږ د کشمیر په اړه رښتیني نه یو پاتې شوي.
سېنها: کشمیریان په دره کې له ډیموگرافیکي بدلونونو څخه په وېره کې دي، کوم چې سختدریځي همداسې غواړي. که چېرته په راتلونکو شلو کلونو کې دا ډول بدلونونه سر راپورته کړي، فکر نه کوی چې ځمکني حقایق او روان وضعیت به کاملاً بدل شي؟
دوراني: د وضعیت د انفجار له لارې د روان وضعیت بدلون یوه لاره ده. زه یوه بله متفاوته لار وړاندیز کوم چې تر ټولو بنسټیزه او پخه ده. مثلاً: موږ دواړه وایو چې دا «اوازه» نه ده چې خلک پرېشانه کړو، بلکې د بحث لپاره یو شی دی. ښایي یو یا څو کاله وروسته عین موضوع په ډېر جدیت مطرح شي. دا به د ښه والي لپاره د روان وضعیت یو بدلون وي. ځینو کسانو د کشمیر په اړه اکثراً احساساتي څرگندونې کړې دي. موږ پوهېږو چې دواړو خواوو ته احساسات او غبرگونونه شته، خو په رسمي کچه باید دا کار ونه شي. په غیر رسمي ډول تل داسې شوي. سربېره پر دې، ځینې خلک د یوه خپلواک کشمیر د گواښونو او ناورینونو په اړه خبرې کوي.ټلوېزیونونه پر دې بحث کوي چې څه به وشي او اغېزې به یې څه ډول وي. ایا ډېر زیان به یې پاکستان او که هند ته ورسېږي؟ دغه ډول بحثونه تابو گاڼې ماتوي. پخواني هند یو وخت پر هند او پاکستان ووېشل شو. پاکستان بیا پر بنگله دېش او پاکستان ووېشل شو. که تر دې مخکې کوم چا د هند د تجزیې خبره کړې وای، نو ژوندی به نه و پاتې. خو یو وخت دا کار وشو. نو که خبره دا وي چې په دې اړه د بحث خوا ته لاړ شو، د کیوبک تجربه باید تکرار شي.
**دوام لري...**

# طلوع سعادت د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




طلوع سعادت د لوړو زده کړو موسسې خپلې رسمي چارې په لوړو زده کړو وزارت کې تر ثبت او راجستر وروسته په ۱۳۹۷ لمریز کال کې د درېو پوهنځیو (معالجوي طب، انجنیري او کرنې) په درلودلو سره پیل کړې دي. د طلوع سعادت د لوړو زده کړو موسسې د محصلینو امر محمد صابر کارگر وایي، وروسته یې د شرعیاتو پوهنځي جواز هم واخیست. دی وایي چې اوس همدا څلور فعال پوهنځي لري چې عملاً پکې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي. دی وایي چې د نورو پوهنځیو د ایجاد هڅه یې هم کړې ده، خو دا چې لوړو زده کړو وزارت د ولسمشر په امر د نویو پوهنځیو د تاسیس چارې ځنډولې دي، نو دوی نه دي توانېدلي چې نوي پوهنځي تاسیس کړي. د محمد صابر کارگر په خبره، انجنیري پوهنځی یې درې ډېپارټمنټونه (برق، ساختمان او کمپیوټر ساینس) لري.
په طلوع سعادت د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې اوسمهال د ۹۰۰ په شاوخوا کې محصلین پر زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې ۳۵۰ یې ښځینه او پاتې یې نارینه محصلین دي. دا چې تر اوسه پورې د لوړو زده کړو له دې موسسې څخه څوک نه دي فارغ شوي، نو د ماسټرۍ پروگرام پیلولو لپاره لا تصمیم نه لري؛ ځکه په یوه پوهنتون کې د ماسټرۍ پروگرام پیلول ځانگړي شرایط لري چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ټاکل شوي دي. د دې شرایطو تر پوره کولو وروسته پوهنتونونه کولای شي چې په خپلو اړوندو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروگرام پیل کړي.
طلوع سعادت د لوړو زده کړو موسسه په کلني ډول په معالجوي طب پوهنځي کې ۱۵۰ تنه، په انجنیري او کرنې پوهنځي کې ۳۰۰ تنه او په شرعیاتو پوهنځي کې بیا د ۲۰۰ په شاخوا کې نوي کسان جذبوي. د لوړو زده کړو دغه موسسه د بېلابېلو کټه‌گوریو لپاره بېلابېل تخفیفونه لري. ښاغلی کارگر وایي چې همدا اوس د دوی د موسسې په فعالو پوهنځیو کې ځینې محصلین د ځانگړي تخفیف له مخې پر زده کړو بوخت دي. دی وایي، د هغو محصلینو لپاره چې له یوې کورنۍ څخه درې یا څلور کسه وي، ځانگړی تخفیف ورکوي. دغه راز د معلولینو، د شهیدانو د ورثه‌وو او بېوزله کسانو لپار تخفیف ورکوي. نوموړی وایي چې په ټوله کې د نویو راغلو محصلینو لپاره تخفیف په پام کې نیول شوی دی.
په طلوع سعادت د لوړو زده کړو موسسه کې د ورځې په درېو ټایمونو کې تدریس کېږي چې د سهار له اتو د غرمې تر دوولسو، د ماسپښین له یوې بجې د مازدیگر تر څلورو او دغه راز د شپې ټایم هم لري چې له څلورو پیلېږي او تر اتو بجو پورې دوام کوي. د لوړو زده کړو دغه موسسه مجهز کتابتون لري چې د پوهنځیو اړوند بېلابېل کتابونه یې پکې ځای پر ځای کړي دي. ښاغلی محمد صابر کارگر وایي چې کمپیوټر لب هم لري چې د محصلینو لپاره یې په کمپیوټرونو کې په سافټ ډول بېلابېل کتابونه ځای پر ځای کړي او تر څنگ یې کولای شي په انلاین ډول هم له کتابتون څخه گټه واخلي، کتابونه مطالعه کړي او خپل معلومات زیات کړي. د لوړو زده کړو دغه موسسه د کتابتون تر څنگ د بېلابېلو برخو لپاره لابراتوارونه هم لري، چې محصلین کولای شي د نظري زده کړو تر څنگ عملي زده کړې او تجربې هم وکړي.
طلوع سعادت د لوړو زده کړو موسسه تر اوسه په رسمي ډول په کور د ننه له کوم پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړه نه لري. ښاغلی کارگر وایي چې په کور د ننه له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره غیر رسمي علمي اړیکې لري او وخت ناوخت د دغو پوهنتونونو په غونډو او ناستو کې گډون کوي. محمد صابر کارگر وایي چې غواړي په ترکیه کې له یوه خصوصي پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړه لاسلیک کړي، چې له مخې به یې ځینې استادان او محصلین د لا نورو لوړو زده کړو، تجربې او وړتیاوو تر لاسه کولو لپاره دغه پوهنتون ته ور استوي او له تجربو به یې گټه اخلي.
طلوع سعادت د لوړو زده کړو موسسه خپلو محصلینو ته د نظري زده کړو تر څنگ د عملي زده کړو زمینه هم برابروي. د دې موسسې د محصلینو امر وایي چې د محصلینو لپاره د مشورې برخه لري، د خپلو استادانو او یا نورو استادانو پر مټ ورته وخت ناوخت سمینارونه او ورکشاپونه دایرېږي، ژمني پروگرامونه لري، د شرعیاتو پوهنځي د محصلینو لپاره تمثیلي محکمې جوړوي او له برېښنا ریاست او ټولگټو چارو وزارت سره د هوکړو له مخې د انجنیري پوهنځي محصلین د عملي زده کړو لپاره دغو بنسټونو ته ور استوي. مانا دا چې په ټوله کې د محصلینو لپاره د نظري زده کړو تر څنگ، د عملي زده کړو امکانات هم لري. په دغه موسسه کې د تدریس چارې د په کار پوه او تجربه لرونکو استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي او هڅه یې دا ده چې مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.
د نویو پوهنځیو تاسیس، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع، د ماسټرۍ پروگرام پیلول، د سیمې او نړۍ په کچه له پوهنتونونو سره د علمي اړیکو د هوکړو لاسلیک کول، له پوهنتونونو سره د ویډیو کنفرانس له لارې اړیکې ټینگول او د تجربو شریکول د طلوع سعادت د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي. د خصوصي پوهنتونونو اداري وایي، لوړو زده کړو وزارت باید په هر اړخیزه توگه له خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو سره همکاري وکړي، ځکه دغه څه په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده، نو د افغان حکومت او په ځانگړې توگه د لوړو زده کړو وزارت هر اړخیزې مرستې ته اړتیا لري. که څه هم چې ښاغلي محمد صابر کارگر په یاده موسسه کې د نورو ستونزو په اړه څه ونه ویل، خو د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه وایي، چې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي او دولتي پوهنتونونو تر منځ توپیر کوي. د ډېرى خصوصي پوهنتونونو مسوولین وایي، دا چې خصوصي پوهنتونونه په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده، نو لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې له دوی سره هر اړخیزه مرسته وکړي، څو دغه پوهنتونونه پر خپلو پښو ودرېږي. د دایمي ځایونو نشتون، لوړې مالیې، د ۲۴ ساعته برېښنا نشتون، په علمي رتبو کې د استادانو نه شاملول او د لا نورو لوړو زده کړو، تجربو او وړتیاوو تر لاسه کولو لپاره د محصلینو او استادانو بهر ته نه استول او په بورسونو کې ونډه نه ورکول، د خصوصي پوهنتونونو اساسي ستونزې بلل کېږي.
دوی وایي، لوړو زده کړو وزارت بیا دوی ته د دولتي پوهنتونونو په څېر ټول دولتي او علمي امکانات برابر کړي، څو له دولتي پوهنتونونو سره یو ځای هېواد ته د ښه خدمت په موخه ښه او وړ کسان وړاندې کړي. دوی وایي، که لوړ زده کړو وزارت ورسره د مور او میرې چلند پرېږدي، لرې نه ده چې دوی به په هره برخه کې ډېر پرمختگ وکړي.

همیانۍ

# د وخت مدیریت

فهیم لمر

نړۍ د ګلوبلایزېشن یا نړیوال کېدلو پر لور روانه ده. دا د دې لامل شوی چې د ځمکې کره زموږ په ورغوي کې راټوله شي. وخت ډېر په چټکۍ روان دی او موږ انسانان د هر وخت په پرتله نن ډېر سره نږدې شوي یو. دا نږدېوالی د دې لامل شوی چې په ورځني ژوند کې وخت ته ځانګړی ارزښت ولرو او په هر ممکنه حالت کې له هغه پوره ګټه پورته کړو. همدا علت دی چې (د وخت مدیریت)Mastar of time کلمه راته تر بل هرڅه مهمه برېښي. حتا په نننۍ نړۍ کې هغه انسانان موفق دي، چې په ښه توګه کولی شي خپل وخت مدیریت کړي. د وخت له مدیریت څخه بېلابېل مفاهیم اخیستل کېږي. ځینې وایي: هرکار پر خپل مناسب وخت تر سره کول د وخت مدیریت دی. په بل مفهوم کې بیا وایي: د دې موضوع درک چې څه په څه وخت کې وکړو او د دې ارزونه د وخت مدیریت دی. همدا شان هغه کسان چې د وخت په اندازه کولو کې له ثانیې څخه ګټه پورته کوي، د وخت ښه مدیران دي.
په همدې ډول د هدف ټاکل او د دې ظرفیت لرل چې په څه ډول ځان په معینه موده کې هغې ته ورسوو، د وخت مدیریت دی. حتا په عمومي ډول ویلی شو چې له وخت څخه مناسبه استفاده د وخت مدیریت دی. په عمومي ډول دا هغه برداشتونه دي چې د وخت له مدیریت څخه کېږي.

**د وخت مدیریت او هدف**

د وخت مدیریت او هدف ډېر نږدې مفاهیم دي چې له یو او بل سره اړیکه لري او له یو او بل څخه رنګ اخلي. نو پرته له هدف څخه د وخت مدیریت او پرته د وخت له مدیریت څخه هدف خپل واقعي ارزښت له لاسه ورکوي. که هدف نه وي، نو د وخت مدیریت به نه وي او که د وخت مدیریت نه وي، نو هدف به موثر نه وي. نو د دې لپاره چې د دې دواړو تر منځ انډول برابر وساتو، لومړی موږ باید په ورځني ژوند کې خپل اهداف مشخص کړو، بیا هغه هدف چې موږ ته لومړیتوب او ډېر ارزښت لري، تر نورو مخکې د هغه د لاسته راوړلو لپاره کار وکړو او وروسته د دې له ټاکل کېدو څخه په عملي بڼه د نورو هدفونو د لاسته راوړلو لپاره د وخت د فکټورونو په نظر کې نیولو سره کار ورته پیل کړو.




په دې برخه کې هغه فکټورونه چې هدف ته د رسېدو په برخه کې مو خنډ ګرځي، له منځه یوسو. د بېلګې په ډول، موږ یو هدف د ځان لپاره ټاکو، هغه دا چې غواړو یو کتاب مطالعه کړو. په اول کې دا ارزونه باید وکړو، چې دا کتاب څومره زموږ لپاره اړین دی؟ د دې کتاب د لوستلو لپاره ایا همدا وخت مناسب دی؟ د دې کتاب د لوستلو لپاره باید له کومو ځیزونو څخه تېر شو؟ د دې کتاب د لوستلو لپاره څومره وخت ته اړتیا ده؟
کله مو چې دا ارزونه وکړه او دې پوښتنو ته مو ځواب وموند، بیا دویمه برخه په نظر کې نیسو، چې د وخت کوم فکټورونه د دې لامل کرځي، چې موږ ونشو کولی خپل هدف په مناسب وخت کې تر لاسه کړو. د بېلګې په ډول، د شپې یې په ښه ډول نه شو لوستلی، ځکه له ځینو خنډونو سره مخ کېږو، لکه سترړیا، د مېلمنو راتګ، غیر متقربه پېښې او داسې نور. یا د ورځې په جریان کې نشو کولی چې خپل هدف ته کار وکړو، پوهنتون، کار ته تلل او پورته یاد شوي فکټورونه. نو ګورو چې سهار وختې ښه وخت دی، اول د پورتنیو فکټورونو د موجودیت سلنه په کې ټیټه ده او دویم په څومره وخت کې چې غواړو خپل هدف تر لاسه کړو یانې کتاب مطالعه کړو، د هغه وخت دقیقه اندازه هم لګولی شو. درېیم خپل وخت په ښه توګه مدیریت کولی شو.
نو همدا وخت ورته مناسب دی او همدا ډول نظر هدف ته په کتو نور فکټورونه ورته وارزوو، څو خپل وخت په ښه توګه مدیریت کړو. خو موږ باید ځینې سربښیندنې په ځان ومنو، وختې باید ویده شو او وختې پاڅو، دومره وختې چې نور ویده وي او موږ د خپل هدف لپاره په کار پسې وتي وو.
دا یوازې یوه بېلګه وه، په همدې ډول نظر هدف ته په سلګونه بېلګې کولی شو وړاندې کړو، خو موږ د لیکنې حجم ته په کتو په همدې یوه بېلګه بسنه کوو.

**د وخت د مدیریت لپاره ساده تمرینونه**

د وخت مدیریت یو هنر دی، د هنر د لاسته راوړلو لپاره مشق او تمرین لومړی شرط دی او د هر هنر تر شا چې مسوولیت او شوق نه وي، د هنر د موجودیت د ظرفیت کچه به په انسان کې ټیټه وي، ځکه چې مسوولیت او شوق ورسره ملګري نه دي. هیڅ هنر په یو ځلي لاسته نشو راوړی؛ بلکې په تدریجي ډول یې د مشق او تمرین په مرسته کسب کولی شو. نو د وخت د مدیریت لپاره هم ځینې تګلارې شته چې د هغه په مرسته یې کولی شو تر خپل کنټرول لاندې راوړو.

**۱- د بوټو یا ګلانو روزنه او ساتنه**

دا یوه ښه تګلاره ده، د دې لپاره چې وکولی شو لومړی د وخت د مدیریت مشق وکړو او مسوولیت منونکې شو. د بېلګې په ډول، کله چې موږ د خپلې خوښې یو ګل روزو، نو یو مسوولیت په غاړه اخلو او هغه مالوم دی چې موږ باید د دې ګل روزنه وکړو. موږ باید په خپل وخت د ګل پالنه وکړو، اوبه ورکړو، خاوره یې بدله کړو، مناسب ځای ورته پیدا کړو او په هکله یې معلومات را ټول کړو. دا فکټورونه د دې لامل ګرځي چې موږ باید هر څه په خپل وخت تر سره کړو او دا له موږ سره مرسته کولی شي چې څه په څه وخت کې وکړو او زموږ د وخت د مدیریت پر هنر په تدریجي ډول اغېزه کوي. له موږ څخه مسوولیت منونکی او فعال انسان جوړوي، چې هر څه پر خپل وخت تر سره کړو.

**۲- د کورنیو څارویو روزنه**

که فکر کوی چې تاسو ډېر غیر فعال انسان یاست او نشی کولی چې خپل وخت په ښه توګه مدیریت کړی، د دې لپاره چې په یو فعال انسان بدل شی او خپل وخت په ښه توګه مدیریت کړی، دا تر ټولو ښه تګلاره ده چې خپل د خوښې یو څاروي پالنه په غاړه واخلئ. د بېلګې په ډول، د پیشو، سپي، سوی او یا اس ساتنه. ستا سو څاروي روزنې ته اړتیا لري او پر وخت باید خواړه ورته چمتو کړی. دا تاسو اړ کوي چې هر څه پر خپل وخت تر سره کړی او د هغه په ښه ډول پالنه وکړی. په دې تګلاره به ستاسو د وخت د مدیریت هنر هم په غیر مستقیم ډول پرمختګ وکړي.

**۳- ورزش کول**

دا هم ښه انتخاب دی، د وخت د مدیریت د پیاوړتیا لپاره دا تر ټولو ښه انتخاب دی چې په اونۍ کې دوې یا درې او یا هم پنځې ورځې د ورزش لپاره د ورځې یو یا دوه ساعته وخت ځانګړی کړئ او په ښه ډول تر سره کولو باندې یې ځان مکلف وګرځوی. دا مهمه نه ده چې لږ ورزش کوی او که ډېر، خو مشخص وخت کې باید په دوامداره توګه هغه ته لاړ شئ.

**۴- د کتاب لوستل**

دا هم د ورزش د فکټور په څېر دی، چې ډېروالی او کم والی یې مهم نه دي چې څو مخه کتاب لولو، خو څه چې مهم دي هغه کوم وخت مو چې د دې کار لپاره ځانګړی کړی دی، د هغه دقیق مدیریت او پرله پسې په هماغه وخت همدا کتاب مطالعه کول دي.

**۵- عبادت**

دا هم ډېره موثره تګلاره ده. د بېلګې په ډول، د اسلام په دین کې په ورځ کې پنځه وخته د لمانځه لپاره ټاکل شوي دي. که یو مسلمان دا کړنه په خپل وخت ادا کړي، نو دی به د وخت یو ښه مدیر وي او خپل نور کارونه به هم په ښه توګه تر سره کړي.
په همدې ډول په لسګونه نورې طریقې شته چې د هغه په مرسته تاسو کولی شی د وخت د مدیریت مشق او تمرین وکړی او خپل ځان په یوه فعاله انسان بدل کړئ او د ژوند په ټولو چارو کې برلاسي واوسی. ځان خپل هدف ته په مناسب وخت کې نېږدې کړئ او په ورځني ژوند کې یو فعال او ځلانده انسان درنه جوړ شي.

## د سولې بین الافغاني خبرې د راتلونکي کال د جنورۍ تر پنځمې ځنډېدلې



د افغان حکومت د مرکچي پلاوي غړي وایي چې د افغان دولت او طالبانو د سولې مرکچي پلاوي د دریو اونیو لپاره رخصت کوي.
په قطر کې د افغان دولت مرکچي پلاوي یوه غړي د نوم نه ښودو په شرط ویلي چې د روانې اونۍ په اوږدو کې به د افغان دولت مذاکراتي ټیم د کابل پر لور وخوځېږي.
سرچینې زیاته کړې، دا چې له تېرو څو میاشتو راهیسې د پلاوي ډېری غړي خپلو کورونو ته نه دي تللي، نو دواړو لورو په مذاکراتو کې د یوې وقفې پرېکړه کړې ده.
په ورته مهال په قطر کې یوې بلې ډیپلوماتیکې سرچینې هم پژواک اژانس ته ویلي چې مرکچي پلاوي په دې اونۍ کې رخصتېږي او دولتي مرکچي پلاوي غړي به په یوه ځانګړې الوتکه کې کابل ته ولاړ شي.
بلخوا په کابل کې د مصالحې عالي شورا یوې سرچینې هم منلې چې دواړو لورو په مذاکراتو کې د وقفې کولو په اړه سلا مشورې کړې دي. سرچینې زیاته کړې چې دواړو لورو پر وقفې موافقه کړې، خو تر اوسه وروستۍ پرېکړه نه ده شوې.
دغه راز په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ډاکټر نعیم ویلي چې په قطر کې بین الافغاني خبرې د راتلونکي کال د جنورۍ تر ۵ نېټې ځنډېدلې. هغه ویلي، پر طرزالعمل تر هوکړې وروسته دواړو لوریو د اجنډا لېستونه تبادله کړل او پر دې اړه یې د نورو مشورو لپاره د جنورۍ تر پنځمې نېټې خبرې ځنډولې دي.
د یادونې ده، شاوخوا درې میاشتې مخکې په لومړي ځل په قطر کې د افغانستان دولت او طالبانو د مرکچي پلاوو ترمنځ په رسمي توګه د سولې خبرې پیل شوې دي.
د دغو خبرو د پرانیستې په مراسمو کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر مایک پومپیو په ګډون د بېلابېلو هېوادونو د بهرنیو چارو ۲۰ وزیرانو او نورو چارواکو ګډون کړی و.
همدارنګه په دغو مراسمو کې د افغانستان د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکتر عبدالله او د بهرنیو چارو سرپرست وزیر حنیف اتمر هم برخه درلوده. د رسمي خبرو له پیل وروسته د دولت او طالبانو د مرکچي پلاوو له غړو د تماس ډله وټاکل شوه، څو د سولې خبرو د اجنډا او نورو غونډو لپاره طرزالعمل نهایي کړي.
پر طرز العمل د خبرو په پیل کې ځینې اختلافات رامنځته شول چې بالاخره تېره اوونۍ دواړو لورو پر ۲۱ ماده ییز طرزالعمل موافقه وکړه .

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۹,۲ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۰,۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202520100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۳مه | ٦٤٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۲ | ۹ | ١٤ | ١٢ | ١٥ | ٨ |
| -٦ | ١ | ٢ | ٢ | ٦ | ١ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۲ | لمر ختل ۰٦:٥٠ | ماسپښين ١١:٤٨ | مازیګر ۰۲:۲٦ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:١٤

## نړۍ




## د عراق پارلمان: وروسته له دې د عراق په چارو کې امریکا ته د مداخلې اجازه نه ورکوو



د عراقي پارلمان د امنیت او دفاع کمېسیون غړي تینګار کړی چې د هېواد ملي حاکمیت یې سره کرښه ده او له دې وروسته به امریکا ته په خپلو چارو کې د لاسوهنې اجازه ورنه کړي. د یاد کمېسیون مشر تقي امرلي ویلي، امریکا هڅه کوي چې په بېلابېلو پلمو په دغه هېواد کې د خپلو پوځیانو حضور ته لار هواره کړي او دغه راز له کلونو راهیسې د عراق په کورنیو چارو کې لاسوهنې کوي. هغه زیاته کړې، د پارلمان غړي به له دې وروسته د امریکا د لاسوهنو په اړه روښانه دریځ ولري او هېڅکله به اجازه ورنه کړي چې د امریکا د لاسوهنو له امله د عراق ملي امنیت له ګواښ سره مخ شي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم د عراق پارلمان امریکا ته خبرداری ورکړی و چې ژر تر ژره دې له دغه هېواده پوځیان وباسي او د عراق په کورنیو چارو کې دې له لاسوهنې ډډه وکړي. د امریکا او عراق ترمنځ دا ناندرۍ وروسته له هغې پیل شوې، کله چې امریکایي الوتکو بغداد ته نږدې د ایران د سپاه پاسداران مشر قاسم سلیماني وواژه. له یادې پېښې وروسته د عراق پارلمان په بېړنۍ ډول له دغه هېواده د ټولو بهرنیو او امریکايي پوځیانو د ایستلو پرېکړه وکړه.

## تازه شمېرې: په امریکا کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر تر ۳۰۲ زرو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۷۱ میلیونه او٥٦٠ زره او ۸۰ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ٦٠٣ زره او ۹٦٦کسان مړه شوي او نږدې ٥٠ میلیونو ترې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ١٦ میلیونه او ۲۹٥ زره او ۷۱۴ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۳۰۲ زره او۷٦۲ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۸۲۹ زره او ١٣٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۸۳٦ زره او ۳۱۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د دوه میلیونه او ٦۲٥ زره او ۸۴۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۳٥١ زره او ۳۷۲ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز ایټالیا، برېټانیا، ترکیه، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ناتو صدها تُن ادویه به نیروهای افغان کمک کرده است



سازمان ناتو می گوید که از ماه گذشته بدینسو، صدها تن ادویه و وسایل طبی را با نیروهای افغان کمک کرده است.

در خبرنامه ای که از دفتر مرکزی ناتو از بلجیم آمده است که ادارۀ حمایت و خریداری این سازمان (این ایس پی آی) در ماه های نومبر و دسمبر، از کشورهای مربوطۀ این سازمان در ده ها هواپیما، به افغانستان ادویه جات مختلف انتقال داده است.

منبع افزوده است که در این هواپیماها، صدها تن ادویه به نیروهای اردوی ملی و پولیس افغانستان انتقال یافته و به ارگان های ذیربط تسلیم داده شده است.

ناتو گفته است که ادویۀ مسکن و ضد درد، انتی بیوتیک ها، واکسین پولیس، سنیتایزر دستشویی و ادویه جات بیماری های شدید دیگر، شامل این صدها تن ادویه می باشد.


در خبرنامه آمده است که این ادویه کمکی، بالای صحت نیروهای امنیتی و دفاعی افغانستان تاثیرگذار خواهد بود. ناتو گفته است که تا پایان امسال میلادی، به نیروهای ذکرشده، ادویۀ دیگر نیز انتقال داده خواهد شد.

منبع افزوده است که این کمک از صندوق مالی به نیروهای اردوی ملی افغانستان صورت گرفته است.

این در حالیست که پیش از همین هم ناتو در پهلوی حمایت مالی و نظامی، به نیروهای افغان در بخش صحت نیز همکاری نموده است.

## ژوند

## سامسُنګ په ٦۰۰ میګاپکسله کامرې کار کوي



د ټکنالوژۍ د برخې اړوند باوري سرچینه؛ ایس یونیورس، د خپل رسمي ټویټر پاڼې له لارې خبر ورکړی چې سامسُنګ کمپنۍ په ٦۰۰ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامرې کار کوي. ایس یونیورس په خپل ټویټ کې یو تصویر چې په کې د کامرې سېنسر (Isocell 600MP) او ځینې نور معلومات ښودل شوي دي، هم شریک کړی دی. د سېنسر په مرسته کامره له زوم کولو څخه وروسته هم لوړ کیفیت لرونکي تصویرونه اخیستلی او وېډیو ثبتولی شي او د دغه سېنسر په مرسته به د 4k او 8k ریزلوشن لرونکو وېډیوګانو اخیستل نور هم اسانه او غوره شي.

٦۰۰ مېګاپکسله سېنسر به له اوسنیو کامرو څخه غټ او د ځیرک موبایل شاتنۍ برخه کې ډېر ځای ونیسي. دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال د سامسُنګ کمپنۍ تر ټولو غوره کامره ١۰٨ مېګاپکسله وړتیا لرونکی سېنسر لري، چې د دې کمپنۍ په ټولو پیاوړو ځیرکو موبایلونو کې کارول شوې ده.

## په ژمي کې دغو ویټامینونو ته ډېره اړتیا لرئ


د ژمي په موسم کې ځینې ناروغۍ د معدني موادو له کمښت څخه رامنځ ته کیږي. د لاندې ویټامینونو له لارې د بدن اوبه پوره کولی او د ځینو ناروغیو مخه پرې نیولی شو.

**ویټامین سي**

د ژمي له راتګ سره د سکاروي یا سینه بغل او زُکام په شان ناروغۍ یوځای راځي، دا په داسې حال کې ده چې د ویټامین سي په خوړلو د بدن دفاعي سیستم قوي کیږي او یا دغه ناروغۍ اوږدوالي ته نه پریږدي. ویټامین سي یو ډول انټي اکسید دی چې په بدن کې د التهاب د کمېدو لامل کیږي.

**ویټامین ډي**

که څه هم د ویټامین ډي استعمالولو ته د ټول کال په اوږدو کې اړتیا ده، مګر د ژمي په



موسم کې دې ډول ویټامین ته ستاسو اړتیا نوره هم زیاتیږي.

**ویټامین اي**

د دې ویټامین استعمال د پوستکي د روغتیا او سلامتیا لپاره ډېر اړین دی او د ژمي په موسم کې د پوستکي له وچوالي مخنیوی کوي.

**ویټامین بي کمپلکس**

د ویټامین (بي) د ډلې ټول ویټامینونه په ژمي کې په کافي اندازې سره استعمال کړئ.

عزیزی بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه



عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټیټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515